مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: پروفیسور دکتور اورهان یازجي
ژباړن: سیلاني

۲۰۲۶/۰۸/۱۴

# انګرېزان او د افغانستان استقلال پېژندنه

د انګلستان لهخوا د افغانستان د خپلواکۍ په رسمیت پېژندنه

د روسیې او افغانستان ترمنځ د ترون تر تصویب وروسته، لارډ کرزن د ۱۹۲۱ زېږدیز کال په سپټمبر کې روسیې ته د اعتراض رسمي یادابنت وسپاره او څرګنده یې کړه چې انګلستان دغه ترون د خپلو ګټو پر وړاندې یو ستر تعرض ګڼي. روسانو د اعتراض دغه یادابنت امان‌الله خان ته ولېږه او هغه یې له موضوع څخه خبر کړ.

دې پېښې په کابل کې د انګریزي پلاوي وضعیت لا پسې خراب کړ. په دې توګه، د انګرېز پلاوي پر وړاندې یوازې دوه لارې پاتې شوې: یا هند ته بېرته ستون شي او یا په کابل کې پاتې شي او د دواړو لوریو ترمنځ یوې هوکړې ته د رسېدو هڅه وکړي. خو د افغانستان د بهرني سیاست د هڅو او پایلو څرګندېدو انګرېزان له افغان حکومت سره له هوکړې پرته له بلې هرې لارې بې‌برخې کړي و.

له همدې امله، انګرېز پلاوي پرېکړه وکړه چې په کابل کې خبرو اترو ته دوام ورکړي. د دواړو هېوادونو پلاوي د متقابلې همکارۍ او دوستۍ پر بنسټ د یوه تړون پر متن هوکړې ته ورسېدل. یوازینی موضوع چې دواړه لوري پرې هوکړې ته ونه رسېدل، د دواړو هېوادونو ترمنځ د سرحد مسئله وه. د هغې سرحدي مسئلې هوارول، چې انګرېزانو د «شمال لوېدیځې سرحدي صوبې» په نوم یادوله، راتلونکي وخت ته وځنډول شوه او په دې شرط خبرې اترې پای ته ورسېدې چې دغه موضوع به وروسته بیا وڅېړل شي. د ۱۹۲۱ زېږدیز کال د نومبر په ۲۲مه د انګرېز حکومت او افغانستان ترمنځ د شوې هوکړې له مخې:

۱. د انګلستان او افغانستان حکومتونه په خپلو ټولو کورنیو او بهرنیو چارو کې د یو بل خپلواکي په متقابل ډول په رسمیت پېژني.

۲. دواړه حکومتونه د هند او افغانستان ترمنځ هغه سرحد په متقابل ډول په رسمیت پېژني چې د ۱۹۱۹ زېږدیز کال د اګست د اتمې نېټې په راولپنډۍ تړون کې منل شوی و.

۳. د انګلستان حکومت به د افغانستان د امیر سفیر، د نورو خپلواکو هېوادونو د سفیرانو په څېر، په لندن کې د شاهي دربار لهخوا ومني او په لندن کې به د افغانستان د سیاسي استازولۍ د جوړېدو اجازه ورکړي. په مقابل کې، د افغانستان حکومت به د بریتانیا د پاچاهۍ سفیر په کابل کې ومني او په کابل کې به د انګلستان د سیاسي استازولۍ د پرانیستلو اجازه ورکړي.

۴. د افغانستان حکومت په کندهار او جلال‌اباد کې د انګلستان د قونسلګریو له پرانیستلو سره موافقه کوي. په مقابل کې، د انګلستان حکومت په کراچۍ، کلکتې او بمبۍ کې د افغانستان د جنرال قونسلګریو پرانیستل مني.

۵. دواړه حکومتونه ژمنه کوي چې په متقابل ډول به په خپلو هېوادونو کې د یو بل د سفیرانو، جنرال قونسلانو، قونسلګریزو کارکوونکو او په خپلو سرحدونو کې د مېشتو اتباعو امنیت خوندي کوي.

۶. دواړه حکومتونه په متقابل ډول چمتو دي چې په سوداګریزو، مالي، پوځي، حقوقي او نورو برخو کې له یو بل سره همکاري وکړي.

43

په کابل کې د دغه تړون منل شوی متن وروسته د ۱۹۲۲ زېږدیز کال د فبرورۍ په شپږمه د دواړو هېوادونو په پلازمېنو کې تصویب او نافذ شو. په دې توګه، د انګلستان او افغانستان ترمنځ د ۱۹۱۹ زېږدیز کال له جون څخه د ۱۹۲۲ زېږدیز کال تر فبرورۍ پورې له اوږدو خبرو اترو او بحثونو وروسته، انګلستان افغانستان د یوه بشپړ خپلواک هېواد په توګه په رسمیت وپېژاند.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانستان، چې خپلواکي يې د انګلستان لهخوا په رسميت پېژندل شوې وه، د هغه وخت له مخکښو هېوادونو؛ لکه ترکيې، ايران، فرانسې، ايټاليا او جرمني سره يو په بل پسې د سياسي، سوداګريزې او کلتوري همکارۍ تړونونه لاسليک کړل. په دې پېر کې د افغانستان د حکومت او د ترکيې د لويې ملي جرګې د حکومت ترمنځ د ليکونو د متقابلې تبادلې له لارې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ د پراختيا په اړه مهمې پرېکړې وشوې. مصطفی کمال پاشا د ۱۹۲۲ زېږديز کال د مارچ په ۱۸مه د مدينې نامتو مدافع، عمر فخرالدين پاشا (ترککان)، چې په اسلامي نړۍ کې يې خورا ځانګړی مقام درلود، په کابل کې د ترکيې د فوق‌العاده او تام‌الاختيار سفير په توګه وټاکه او په دې توګه يې له افغانستان سره دوستۍ ته د خپل ځانګړي ارزښت څرګندونه وکړه.
44

د ۱۹۲۲ زېږديز کال د اپرېل په ۲۸مه له فرانسې سره د دوستۍ او همکارۍ د تړون په لاسليک کېدو لومړنی عملي ګام واخيستل شو او د فرانسې په مرسته په کابل کې د «امانيه» په نوم يوه نوې لېسه پرانيستل شوه. همدارنګه، فرانسوي لرغونپوهانو په افغانستان کې په پېژندل شويو لرغونو سيمو کې د کيندنو او څېړنو چارې پيل کړې.[45] د ۱۹۲۲ زېږديز کال د جون په درېيمه، محمد ولي خان له ايټاليا سره د دوستۍ او همکارۍ تړون لاسليک کړ. د دغه تړون په پايله کې، ايټالوي پوهان کابل ته راغلل او د انجنيرۍ، کرنې او ډيپلوماسۍ په برخو کې يې فعاليتونه پيل کړل.[46] وروسته له جرمني سره هم يو تړون لاسليک شو او له جرمني څخه راغلو ښوونکو په امانيه لېسه کې له فرانسوي ښوونکو سره په ګډه تدريسي چارې پيل کړې.
محمد ولي خان د خپل اروپايي سفر په پای کې ايران ته ولاړ او د ۱۹۲۲ زېږديز کال د جون په ۲۲مه يې له ايران سره د دوستۍ او همکارۍ دولس‌ماده‌يیز تړون لاسليک کړ.[47] دغه تړون له دې پلوه خورا مهم و چې د ايران او افغانستان پر اړيکو يې له اوږدې مودې راهيسې غوړېدلې تورې وريځې لرې کړې. دغه دواړه دولتونه، چې د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې د امپرياليستي قدرتونو له تېري او زورواکۍ سره مخامخ شوي و، نږدې په يوه وخت کې يې خپلواکي ترلاسه کړې او نړيوالې ټولنې ته يې ځانونه د خپلواکو دولتونو په توګه منلي و. دوی همدارنګه پرېکړه وکړه چې خپلمنځي دښمنۍ يوې خوا ته کړي او له يو بل سره د همکارۍ نوې لاره خپله کړي.
د دغو پرله‌پسې تړونونو په لاسليک کېدو سره، د افغانستان خپلواکي د نړيوالې ټولنې لهخوا هم تاييد شوه. وروسته له هغه چې انګلستان او روسيې په کابل کې خپل سفارتونه پرانيستل، ترکيې، فرانسې، جرمني، ايټاليا او ايران لومړی خپلې سياسي استازولۍ او ورپسې سفارتونه جوړ کړل. افغانستان ته د ګڼو بهرنيو متخصصانو راتګ پيل شو، څو په ځانګړې توګه په تخنيکي او پوځي برخو کې د دغه هېواد له نوښتونو او پرمختيايي هڅو سره مرسته وکړي. همدارنګه، ګڼ شمېر افغان ځوانان د علم، تخنيک او کلتور په برخو کې د وخت له غوښتنو سره سم د زده‌کړو لپاره، تر ډېره جرمني او ترکيې او همدارنګه روسيې او ايټاليا ته واستول شول.
محمد ولي خان د ۱۹۲۲ زېږديز کال د جون په پای کې، د خپل هېواد د خپلواکۍ د ورپېژندلو په موخه پيل کړی سفر بشپړ کړ او بېرته هېواد ته ستون شو. په همدې کال امان‌الله خان د بهرنيو چارو وزير، محمود طرزي، پاريس ته واستاوه او له هغه يې وغوښتل چې په اروپا کې د سياسي، اقتصادي او تخنيکي چارو نوي پرمختګونه له نږدې وڅاري.
په دې توګه افغانستان، چې د تېرې پېړۍ په اوږدو کې نږدې په بشپړ ډول له بهرنۍ نړۍ څخه ګوښه ساتل شوی و، په لنډ وخت کې د دغو ګامونو په پورته کولو سره د يوه بشپړ خپلواک دولت هغه دريځ ترلاسه کړ چې نړيوالې ټولنې هم په رسميت پېژانده.

د ليکنې پای، نورې برخې نلري.

د ليکنې پاورقي

1V. Gregorian, The Emergence of Modern Afghanistan, Stanford 1969, s.227.
2G. M. Gubar, Afganistan der Mesir-i Tarih, Tahran 1374, s.752.
3M. S.Ferheng, Afganistan der penç karn-ı ahir I, Meşhed 1371, s.485.
4Habibullah Han'ın öldürüldüğü gece silah sesi duyulması üzerine Muhammed Nadir Han'ın "Emir hazretleri uyuyor, onu rahatsız etmeyiniz" diyerek çadıra girilmesine müsaade etmediği ve böylece katilin kaçmasına yardım ettiği ortaya atılmıştı. Kandahar ve Kâbil'de oldukça fazla taraftarının olması sebebiyle hapiste fazla kalmamış ve serbest bırakılarak yeniden ordu komutanlığına tayin edilmişti. Bkz. M. S.Ferheng, a.g.e.I, s.484.
5Amanullah Han, katilin bulunmasında yeterli titizliğin gösterilmemesi ve herhangi bir tahkikatın yaptırılmamasından sorumlu tuttuğu amcası Nasrullah Han'ı mahkemeye çıkardı. Burada Emir'in öldürülmesinde kusurlu görülen


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

Nasrullah Han, Erg zindanına atıldı ve birkaç yıl sonra burada vefat etti. Bkz. M. S.Ferheng, a.g.e.I, s.486; Nasrullah Han'ın hapiste iken Amanullah Han'a yazmış olduğu mektuplar için ayrıca bkz. Bkz. Gubar, a.g.e., s.741 vd.

6Amanullah Han'ın bu hitabı için bkz. G. M. Gubar, a.g.e., s.752.

7İkbal Ali Şah, Modern Afghanistan, London 1938, s.101; L. W. Adamec, Afghanistan, 1900-1923, Berkeley 1967, s.109 vd; M. Saray, Dünden Bugüne Afganistan, İstanbul 1981, s.132.

8Amanullah Han'dan Hindistan genelvalisine, 3 Mart 1919 tarihli mektup, East India (Afghanistan), Papers Regarding Hostilities with Afghanistan, 1919, No. 1, s.1189; Ayrıca bu mektubun Türkçe tercümesi için bkz. Mehmet Cevat, Afganistan, Ankara 1934, s.125 vd.

9N. D. Ahmad, The Survival of Afghanistan 1747-1979, Lahore 1990, s.171.

10G. M. Gubar, a.g.e., s.756; Yu. V. Gankovsky, A History of Afghanistan, Moscow 1982, s.217.

11N. D. Ahmad, a.g.e., s.172.

12Mehmet Cevat, a.g.e., s.128.

13L. W. Adamec, a.g.e., s.110.

14Lord Chelmsford'un 15 Nisan 1919 tarihli mektubu için bkz. Genelvali'den Amanullah Han'a, East India (Afghanistan), Papers Regarding Hostilities with Afghanistan, 1919, No. 3, s.1191.

15Bkz. N. D. Ahmad, a.g.e., s.172.

16L. W. Adamec, a.g.e., s.111 vd.

17İkbal Ali Şah, a.g.e., s.108 vd.

18G. Macmunn, a.g.e., s.258.

19G. M. Gubar, a.g.e.,s.758 vd.

20Amanullah Han, savaşa çok çabuk karar verdiği için sadece Kâbil, Gazne ve Kandahar'daki birliklerini harekete geçirmiş, Rus sınırında bulunan 7.000 süvari, 42.000 piyade ve 260 topu İngiliz cephesine sevk edememişti. Bkz. R. Strausz-Hupe, "The Anglo-Afghan War of 1919", Military Affairs, Vol. 7, No. 2, (Summer, 1943), s.92.

21İkbal Ali Şah, a.g.e., s.109 vd.

22G. Fremont-Barnes, The Anglo-Afghan Wars 1839-1919, New York 2009, s.83; D. Fromkin, Barışa Son Veren Barış: Modern Ortadoğu Nasıl Yaratıldı 1914-1922, (trc. M. Harmancı), İstanbul 1989, s.420 vd.

23Erkân-ı Harbiye-yi Umûmi Riyaseti, 1919 Afgan-İngiliz Harbi, Dersaadet ,1341s.11.

24İkbal Ali Şah, a.g.e., s.111 vd; Savaşın geniş bir analizi için ayrıca bkz. G. Macmunn, a.g.e., s.264-280.

25A. Fletcher, Afghanistan: Highway of Conquest, New York 1966, s.193 vd.

26Bkz. İkbal Ali Şah, a.g.e., s.118 vd; M. S.Ferheng, a.g.e.I, s.495.

27G. M. Gubar, a.g.e.,s.772 vd; İkbal Ali Şah, a.g.e., s.123.

28İkbal Ali Şah, a.g.e., s.130 vd; Mehmet Cevat, Afganistan, s.140 vd; Ravalpindi Anlaşması'nın tam metni için ayrıca bkz. L. W. Adamec, a.g.e,. s.182 vd.

29M. S.Ferheng, a.g.e.I, s.498.

30L. W. Adamec, a.g.e., s.144.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

31M. S.Ferheng, a.g.e.I, s.499.
32Bkz. A. Tarzî, "Efganistan", İ.A. IV, s.171 vd.
33G. M. Gubar, a.g.e., s.777 vd.
34M. S.Ferheng, a.g.e.I, s.502 vd.
35Y. H. Bayur, Hindistan Tarihi III, Ankara 1987, s.534; Anlaşmanın İngilizce tam metni için bkz. L. W. Adamec, a.g.e., s.188 vd.
36Anlaşmanın tam metni için bkz. Y. H. Bayur, a.g.e.III, s.535 vd.
37Esasen Mustafa Kemal Paşa, T.B.M.M.'nin açılışından sonra ilk siyasî temsilcileri olarak 12 Ağustos 1920'de Mahmud Şevket Bey (Esendal)'i Azerbaycan'a ve 18 Ağustos 1920'de Abdurrahman Bey (Samadanî)'i Afganistan'a tayin etmişti. Nahcıvan-Moskova yoluyla Afganistan'a ulaşan Abdurrahman Bey, Mustafa Kemal Paşa'nın dönemin siyasî ortamını ifade eden mektubunu Amanullah Han'a iletmiş ve bu suretle iki genç devlet arasında ilk diplomatik münasebetler başlamıştı. Mustafa Kemal Paşa'nın Amanullah Han'a göndermiş olduğu mektubun tam metni ve sadeleştirilmiş hali için bkz. B. N. Şimşir, Atatürk ve Afganistan, Ankara 2002, s.39-43; Ayrıca bkz. S. Cöhce, "Atatürk Döneminde Türk-Afgan Münasebetleri," Afganistan Üzerine Araştırmalar, (Yay. Haz. a. Ahmetbeyoğlu), İstanbul ,2002s.107.
38B. N. Şimşir, a.g.e., s.62 vd; Amanullah Han döneminde Türk-Afgan ilişkileri hakkında geniş bilgi için bkz. M. Köçer, Emanullah Dönemi Afganistan ,(1929-1919)Elazığ 2009.
39B. N. Şimşir, a.g.e., s.66 vd.
40Fransa ile yapılan anlaşmada Fransızlar, gelecek on yıl içinde Afganistan'da arkeolojik kazı yapma tekelini elde etmişlerdi. Bkz. Y. H. Bayur, a.g.e.III, s.537.
41M. S.Ferheng, a.g.e.I, s.502 vd.
42G. M. Gubar, a.g.e.,s.782 vd.
43İngiltere ile Afganistan arasında yapılan ve Afganistan'ın bağımsızlığını tanıyan on dört maddelik bu anlaşmanın tam metni için bkz. L. W. Adamec, a.g.e., s.184-188.
44Bkz. B. N. Şimşir, a.g.e.,s.79 vd, 94 vd; Mustafa Kemal Paşa, Fahreddin Paşa'nın Kâbil elçiliğine atanmasına 26 Kasım 1921'de karar vermiş ve bu konuyu Cemal Paşa ve Ali Fuad Paşa'ya bildirmişti. Ancak dış politikadan kaynaklanan birtakım tereddütler sebebiyle bu atama dört ay kadar uzamıştı. Bkz. S. Cöhce, a.g.m., s.122 vd.
45Fransa ve Afganistan hükümetleri arasında imzalanan dört maddelik anlaşma metni için bkz. L. W. Adamec, a.g.e.,s.193 vd.
46Bkz. L. W. Adamec, a.g.e., s.194.
47Anlaşmanın tam metni için bkz. L. W. Adamec, a.g.e., s.194 vd.